TB FREE
KING COUNTY

# د BCG واکسین او د نري رنځ (TB) آزمایښتونه

که تاسو **د TB آزمایښت** ته اړتیا لرئ، نو دا مهمه ده چې پوه شئ چې تاسو د ماشوم په توګه د BCG واکسین ترلاسه کړی او که نه. تاسو اوس هم پر TB اخته کېدلی شئ، حتی که چېرې تاسو واکسین شوي هم یاست، په ځانګړې توګه که چېرې تاسو اوس لوی شوی (بالغ) یاست.

**د BCG واکسین** د ماشومتوب د نري رنځ د تر ټولو ناوړه ډولونو پر وړاندې ساتي. دا د مشر کس (بالغ) په توګه ستاسو ساتنه نه کوي.

**د وینې د معاینه کولو سره د TB معاینه.** د TB واکسین چې BCG هم ورته ویل کېږي، د وینې د معاینې پایله نه بدلوي. که چېرې تاسو په ماشومتوب کې د BCG واکسین کړي وي، نو خپل ډاکټر ته ووایاست چې د TB د پوستکي معاینه مه کاروئ.

**د سینې ایکسرې او د ډاکټرانو لیدنه** بل ګام دی، که چېرې ستاسو د وینې د TB معاینه مثبته وي. ستاسو ډاکټر به دا وټاکي چې ایا تاسو د TB فعاله یا غیر فعاله ناروغي لرئ.

**په متحده ایالاتونو کې** ډېری خلک د غیر فعال نري رنځ یا TB لپاره درمل خوري، تر څو له دوی سره مرسته وکړي چې وروسته پر ناروغۍ اخته نشي. کیدای شي نور هیوادونه د غیر فعال TB لپاره درمل ور نه کړي.درمل معمولا له 3 څخه تر 4 میاشتو پورې دوام کوي.

هغه خلک چې د TB پر فعالې ناروغۍ اخته وي، د ناروغۍ احساس کوي او کولی شي د نري رنځ ویروس خپلو نږدې خلکو ته خپور کړي. تاسو کولی شئ چې موږ ته په 206-744-4579 له لارې زنګ ووهئ، 1 غوراوی وټاکئ، یا بریښنالیک واستوئ: LTBI@kingcounty.gov تر څو پوښتنې وکړئ.

Public Health
Seattle & King County